Downloaded from: justpaste.it/6e11q

# په کابل کې د دفاع وزارت د لوجستیک او انجینرینګ برخې تر فدایي بریدونو لاندې ونیول شوې

نن سهار شاخوا اته نیمې بجې د کابل ښار دوهمې حوزې اړوند د کابل اداري د دفاع وزارت د لوجستیک او انجینرینګ مرکزونه تر فدایی بریدونو لاندې راغلل.

لومړی د یوه موټرپه وسیله د دفاع وزارت د یادو څانګو په مخ کې پراته موانع لرې شول او ودانیوته یې هم سخت زیان واوښت، وروسته ګڼ شمیر فدایي مجاهدین د دفاع وزارت د غې برخې ته داخل شول او هلته یې په میشتو، افسرانو، عسکرو او اړوندو کسانو باندې مرګونې ګوزارونه پیل کړل.

د لومړنیو راپورونو په اساس تراوسه پورې لسګونه تنه د دفاع وزارت اړوند افسران او عسکر وژل شوي، او لاهم تر بریدونو لاندې دي.

داچې لومړنۍ چاودنه ډیره ستره وه، په ځینو برخو کې د ودانیو شیشې ماتې کړې چې له امله یې یو شمیر ملکي خلکوته هم سطحي زیانونو اوښتي دي.

خو د برید هدف ملکي خلک نه، بلکې د دفاع وزارت اړوند څانګې وي، چې موټربم او مجاهدین هغو خپلو اهدافو ته رسیدلي دي.

بریدونه لا هم روان دي، نور جزئیات به بیا شریک کړو.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۲۸/۱۰/۱۴۴۰هـ ق

۱۰/۴/۱۳۹۸هـ ش ـ 2019/7/1م